**د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته**

**د افغانستان لپاره د عمومي منشي د ځانګړې استازې روزا اتونبایوا لنډ ګزارش**

**نیویارک، ۸ مارچ ۲۰۲۳**

[څرنګه چې وړاندې شوې]

***

ښاغلي رئیس،

نن د ښځو نړیواله ورځ ده، خو زه په افغانستان کې ښځو او نجونو ته د تسل کم شمېر پیغامونه لرم. د ښځو د کار کولو، زده کړې، د محرم نارینه څخه پرته د سفر کولو او حتی پارکونو یا حمامونو ته د ورتګ په وړاندې بندیز لا هم پر خپل ځای پاتې دی. طالبانو ادعا کوي چې هیواد یې یو موټی کړی دی خو د جنسیت په لحاظ هغه یې کلک ویشلی دی. په اوس مهال کې چې افغانستان د لسیزو جګړو پای څخه وروسته خپلې ټولې بشري پانګې ته اړتیا لري، احتمالاً د هیواد نیمايي ډاکټران، ساینس پوهان، ژورنالیستان او سیاستوال په خپلو کورونو کې بند پاتې دي، نا امیده شوي او استعدادونه یې مصادره شوي دي. په افغانستان کې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال دغه هیواد لا هم د ښځو د حقونو په برخه کې د نړۍ د تر ټولو ځپوونکی هېواد په شمېر کې راځي.

طالبان موږ ته وايي چې د جنسیت توپیر مسله ډیر د پام وړ موضوع ندی او دغه موضوع ته رسیدګې شوې. په ورته حال کې دوی وايي چې د دوي د نورو لاسته راوړنو په اړه قضاوت باید وشي. خو واقعیت دا دی چې د دسمبر میاشتې په ۲۰ نېټه کې د لوړو زده کړو باندې بندیز او بیا د همدې میاشتې پر ۲۴ نېټه له انجو ګانو سره د ښځو پر کار بندیز لګول پر افغان ولس او د طالبانو او نړیوالې ټولنې سره پر اړیکو باندی ناوړه اغیزه درلود. ممکنه ده چې د افغانستان لپاره په تمویل کې کمښت راشی که چېري د ښځو د کار کولو بندیز لیري نشي. د ساري په توګه هغه شمېر انجوګانې چې د ښځو لخوا اداره و مدیریت کیدل، اړ دي چې خپل فعالیتونه په ټپه ودروي. که چیرې د مرستې په اندول کې کمښت راشي، نو بیا د دغو مرستو لپاره د اړتیا وړ نغدو پیسو په کچه کې به هم کمښت راشي. د دغو بندیزونو په پایله کې، د اقلیم د بدلون د ناوړه اغیزو کمولو لپاره او همدارنګه د پلان شوی سیاسي تعامل، د وړو زیربناوي او پالیسې ګانو په ګډون، د یو لا زیات پرمختیایي ډوله مرستې د چمتو کولو لپاره، بحثونه ودرول شول. زموږ په آند طالبان د بل هر حکومت په پرتله یو خورا بیل نړۍ لید لري، مګر دا ستونزمنه ده چې پوه شو چې څه رنګه یو حکومت، چې د حکومت نوم لیاقت ولري، کولای شی د خپل نیمایی وګړو د اړتیاوو پر خلاف حکومت وکړي.

ښاغلي رئیس،

زموږ ټول تمرکز تل پر افغانانو وو. په حقیقت کې زموږ ملاتړ د ښځو د حقونو، د بشري حقونو او د نجونو د زده کړې لپاره وو ځکه چې دا د افغان وګړو واضح تمه او هیله ده. دوي په حقه دا هېله لري چې د دوی هیواد نه باید د ښځو د حقونو په ډګر کې د ځمکې پر سیاره باندې ترټولو وروسته پاتې شي. د دوحې د خبرواترو پر مهال دوي د طالبانو د ژوري ډاډ ورکولو له امله پوه شوي وو چې دا حقونه به نه محدودېږي.

حتی ځینو ښځو موږ ته وویل چې دوي واک ته د طالبانو رسیدل هرکلی کړي وو، ځکه چې جګړه پای ته ورسیده، خو دوي ډېر ژر ناهیلې شولي. دوی وایي چې د ټولنیز ژوند څخه د دوي بې برخه کیدل د یوه تاوتریخجن مرګ له ډار څخه بهتره نه ده.

افغان وګړی په نورو ډولونو سره هم د ژورو ستونزو سره مخ دي. افغانستان لا هم د نړۍ په کچه تر ټولو ستر بشري ناورین ځپلی هیواد دی. سږ کال د ژوندې پاته کیدو لپاره د وګړو دوه دریمه برخه، چې ۲۸ ملیونه خلک دې به بشري مرستو ته اړتیا ولري. دغه مرسته به ۴،۶۲ ملیارډ ډالر لګښت غواړي چې تر دې مهاله پوری د یو هیواد لپاره د ترټولو لوي د مرستې غوښتنه ده. کابو د ټول وګړو نیمايي برخه، چې ۲۰ ملیونه خلک کیږي، د خوړو د خوندیتوب د ناورین کچه تجربه کوي. ۶ ملیونه وګړي د قحطۍ په څیر وضعیت څخه یوازی یو ګام لرې دي.

زموږ د بشرپالنې اقدام د یو مخ پر زیاتوالي او پیچلي لاسرسي او همدارنګه امنیتي چاپیریال په ذریعه ننګول کیږي. په انجو ګانو کې د ښځو پر کار بندیز لګول زیانمنیدونکو وګړو ته د لاسرسي یوازینی بنسټیز خنډ نه دی. موږ له دې هم اندیښنه لرو چې په ملګرو ملتونو کې د داخلې ښځینه کارکوونکو په کار به هم بندیز ولږیږي. تر اوسمهاله موږ د دې شاهدان یو چې په پنځو ولایتونو کې د ملګرو ملتونو دفترونو ته د داخلې ښځینه کارکوونکو د ورتګ د مخنیوي هڅې د طالبانو لخوا ترسره شوي دي. په انجوګانو کې دا ډول محدودیتونه په زیاته کچه تجربه شوی دی. په ځینو ولایتونو کې موږ اړ شویو چې په موقت ډول د مرستو رسولو او ویش کار وځنډوو ځکه چې سیمه ییز چارواکې د مرستو د ویش پر وړاندې د نه منلو وړ شرطونه وړاندی کړي وو. په عمومي ډول په وروستیو کې، د بشرپالنې مرستو لپاره چاپیریال ناوړه او خراب شوی دی.

مخکې له دې چې دا ډول خنډونه په ۲۰۲۲ کال پلي شي، ملګري ملتونه او د هغه همکار انجوګاني وکولای شواي ۲۶.۱ میلیون وګړو ته رسیدګی وکړي چې زیاتره برخه یې په هیواد کې د ښه امنیت له امله و. زه ویره لرم چې په ۲۰۲۳ کال کې د ښځو پر کار باندې بندیز ولګول شي او نور محدودیتونه چې طالبانو په عمدي ډول پلي کړي دي، راتلونکې لاسرسي هم له خنډ سره مخ کړي. د لاسرسي ترټولو لوي شمېر خنډونه د ۲۰۲۲ کال د دسمبر په میاشت کې تر سترګو شو. که د انجو ګانو د ښځېنه کار کوونکو پر کار باندې بندیزونه پر خپل ځای وي، زموږ د بشرپالنې مرستو کارکوونکي به اړ وي چې افغانانو لپاره، د یو نامساعده او نیمګړي جوړجاړي په تر سره کولو سره، یوازی د ژوند ژغورولو مرستو ته دوام ورکړي. دغه ناځرګنده وضعیت کومي تبصري ته اړتیا نلري.

همدارنګه د بشرپالنې د مرستو په وړاندی کولو کې زموږ وړتیا د خراسان ولایت د اسلامی حکومت (داعش) د مخ په زیاتیدونکو ګواښونو له امله اغیزمن شوي چې زموږ د خپل امنیت او زموږ د همکار پلی کوونکو انجوګانو امنیت ته د زیات اندیښنې وړ دی. موږ تر دې دمه د چمتو شوی خوندیتوب او امنیت له امله مننه کوو، خو د اندیښنې وړ موضوع دا دی چې اوسني چارواکي دا وړتیا نه لري چې په بشپړ ډول د ظهور په حال کې ګواښونو ته غبرګون وښيي. د دغو ګواښونو کمول به دې ته اړتیا ولري تر څو غړي هیوادونه لا زیات یو موټی او ګډه پاملرنه تر سره کړي ځکه دا د نړیوالې ټولنې او اوسنې چارواکو تر منځ یوه ځرګنده مشترکه موضوع ده.

د ښځو او نجونو د حقونو د تر پښو لاندې کولو سربیره، موږ د نورو بشري حقونو د تدریجی تحلیل شاهدان یو. د عمومي منشي په راپور کې د پخواني حکومتي چارواکو او امنیتي ځواکونو په وړاندې د روان، د قضايي محاکمې پرته وژنو، خپل سري نیولو، توقیفولو او شکنجه کولو یادونه کوي کوم چې د اوسنی چارواکو له خوا تر سره شوي دي. دغه سرغړونې د طالبانو د

عمومي عفوې له فرمان څخه تیرې دی. د سرغړونو د پلټنو په اړه شفافیت شتون نلري، او داسې ښکاري چې د سرغړونو د غو پېښو ته په زیاته پیمانه اجازه ورکړ شوي وي.

موږ د طالبانو د مشر لخوا د هدایاتو د دوامداره پلي کول هم ولید چې د قضایي بدنی سزاګانو غوښتنه کوي چې اکثراً د عامو خلکو په مخ کې ترسره کیږي. دا ډول کړنې د نړیوال قانون له مخې د شکنجې او ناوړه چلند یوه بڼه ګڼل کیږي.

همدارنګه د رسنیو سکتور او مدني ټولنه کې هم زیات قیودات او څېړنې شتون لري. هره ټولنه د خپلو اتباعو او ټولنو غږ ته اړتیا لري ترڅو د خبرو اترو له لارې جوړجاړي ته لاس ومومي، نه ډار او څېونه.

ښاغلي رئیس،

یو کال وړاندې یوناما دغې شورا ته وړاندیز وکړ چې په ۲۰۲۱ کال کې د عمومي شخړو پای ته رسیدل د یوې مثبتې سولې د رامنځته کیدو لپاره یو فرصت دی. د اوسني چاراواکو سره زموږ لومړنی تعامل او ښکیلتیا تر یوه حده رغنده وه او موږ ته یې محتاط هېله را په برخه کړ. موږ د یوې داسې لارې په طرحه کولو پیل وکړ چې باور رامنځته کړي او له نړیوالې ټولنې سره د بیا یوځای کیدو په خاطر طالبانو ته د نړیوالې هیلې روښانه کړي.

تر دمګړیه د طالبانو مشرتابه یو کال مخکې په پرله پسې ډول داسې پرېکړې تر سره کړې چې دغه ټاکل شوی موخه یې له پامه وغورځول. د دې پریکړو اجتماع د داسې یو حکومت بڼه وه چې نړیوالې ټولنې ته د منلو وړ نه و – هغه څه چې و نه کولای شواي طالبان حیران کړي. زموږ غندنې ډله ییز اعلامیې او د بندیزونو لګول کومه اغیزه نه درلود. کیداي شی دا ټول د ځینو طالبانو دریځونه کلک کړي وي. له بلې خوا، زه په دې باور یم چې د طالبانو په مشرتابه کې دننه او په ټول تحریک کې یوه ډله شته چې د مشرتابه له اوسني استقامت لورۍ سره همغږه نه دی. دا ډله پوهیږي چې اصلي پام باید د خلکو اړتیاوو ته واړول شي. شاید دا په پای کې د سمت تدریجی بدلون تر سره کړي. خو وخت کم دی. نړیوال بحرانونه مخ په ډیریدو دي. د ډونرانو د سرچېنو څخه غوښتنې مخ پر زیاتیدو دي په داسي حال کې چې دغه سرچېنې مخ پر کمیدو دي.

زه دا ډاینامیکونو ته په زیاتو اندیښنو سره ګورم. زه ویره لرم چې تاریخ به تکرار شی، چې افغانستان به داسې یوه پریکړه وکړي چې د هغه انزوا زیات کړي. د ۱۹۹۰ کلونو بر خلاف، نړیوال پر افغانستان ډېر تمرکز لري. د یوناما ستراتیژي دا ده چې، د طالبانو او نړیوالې ټولنې ترمنځ، دواړه سیمه او ډونران، د صادقانه او په نیغه خبرو اترو لپاره، اوسني سیاسي چاپېریال خوندي کړي چې شتون لري. موږ په یو سیاسي کړکیچ شیبه کې یو چې په هغه کې باور په لږه پیمانه شتون لري.

ښاغلي رئیس،

یوناما ستاسو په استازیتوب په افغانستان کې شتون لري، هره ورځ د اوسنې چاراواکو، د سیمه‌ییزو سیاسي اپوزیسیونونو، مدني ټولنې، د خصوصي سکتور له فعالینو، او په زیاتیدونکي توګه د افغانستان له ځوانانو چې د هیواد د اوسمهال جوړېدونکې راتلونکې میراث وړونکې دي، سره په تعامل کې یو. زموږ ساحوي دفترونه ځمکنی ماموریتونه ترسره کوي چې د هیواد ټولو برخو ته رسیږي، چې نه یوازې مرستې چمتو کوي، بلکې د خلکو سره اړیکې ساتې تر څو د اصلي وضعیت په اړوند ستاسو لپاره کره او اصلی او ممکنه غوره معلومات چمتو کړي. دا حالت خورا پیچلی دی، او کله ناکله د امید لپاره لوی دلیلونه شتون لري چې

ښکاري، مګر په دې کې شک نشته چې لوی او خورا لیدل شوي جریانات د اندیښنې وړ او منفي دي. دغه جریانات د ډیالوګ/خبرو لپاره د دغه اړین چاپیریال ساتل له ستونزو سره مخامخ کوي.

نړیواله ټولنه، په سیمه کې دننه او د سیمې څخه بهر، د نړیوال ټولنې په پار، ټولو د دغو فرمانونو د بیرته اخیستلو غوښتنه کړې ده. دا یوه روښانه او واحد دریځ دی. موږ هیله لرو چې طالبان دغه حقیقت ته په ستره ملاحظه وګوري چې دغه موضوع د دوي په ګټه او تر ټولو زیاته د افغان وګړو په ګټه ده. په ورته حال کې، نړیواله ټولنه هم باید د اوسني چارواکو سره د خبرو اترو لپاره د یوې اجنډا په طرحه کولو پیل وکړي او په هغه کې هغه مسایل ورګډ کړي کوم چې د طالبانو لپاره مهم دي. دا دوه عناصر کولای شي د یوې پروسې بنسټ جوړ کړي چې وکولای شي د باور په رامینځته کولو کې مرسته وکړي او د متقابل لورو لپاره د منلو وړ پایلو لامل شي.

په پای کې ښاغلي رئیس،

د دې لپاره چې یوناما د دې شورا په استازیتوب د دې کړنلارې په پلي کولو کې خپله ونډه ولوبوي، موږ هیله لرو چې موږ ته به د یو بل کال لپاره ماموریت وسپارل شي. څرنګه چې ما په خپل وروستي لنډ راپور کې یادونه وکړه، یوناما، د افغانستان لپاره د عمومي منشي د ځانګړي استازی پخوانی مرستیال په مشري، د خپل ماموریت یوه خپلواکه بیاکتنه ترسره کړه. د دغه بیا کتنې په عمومي پایله کې داسې راغلي چې د یوناما اوسنی ماموریت د فعلي وضعیت لپاره خورا پیاوړی، متوازن او هر اړخیز دی. د هغو خنډونو سره سره چې ما بیان کړ، موږ مکرراً تاییدو چې د واحد، د زغم وړ او اصولي تعامل پرته بل بدیل نشته چې وکولای شي د افغان وګړو اړتیاوې او حقونو ته لومړیتوب ورکړي.

مننه.

*****